مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۴/۲۰

# دا تصویر د نني افغـانستان دی

## غـزل

د عذاب په دار هر روح را اوېزان دی
دا تصویر د نني افغـانستان دی

د شعـور د بیـدارئ يي کمبختيا ده
عجيبه ده هم جنت دی هم زندان دی

واړه خلک په روانه باندې مړه دي
تصـور د سپينو حورو بنديوان دی

ښکلي ښکلي يوسف مخي ترېنه وځي
له وطنه تور کوهی جوړ د کنعان دی

د کافرو بې لمونځونو عمل جوړ دی
مسلمانه! ستا څه بل ډول شيطان دی

زموږ.جګړه کې د هر چا منګولې سرې دي
بې طرف پکې بـاوره! يو اسمان دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ